د۱۳۸۱ لمريز دغبرګولي ۱۶

# مطبوعاتي اعلاميه

د نوامبر ۲۰مه
دماشومانو د حقونو دنړيوال تړون شلمې کاليزې
او دماشومانو د نړيوالې ورځې په مناسبت

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون د ماشومانو د بشري حقونو د وضعيت په اړه خپله انديښنه څرګندوي!
دافغانستان حكومت په ۱۳۷۳لمريز كال كې د ماشومانو دحقونو نړيوال تړون تصويب او لاسليك كړى دى. دپورته تړون له تصويب سره – سره د افغانستان د دولت او د بشري حقونو د ملاتړو ځانګو په لاره كې ننګونې شته او د افغانستان ډيرى ماشومان د مړينې ، معلوليت او د بېلابېلو فزيكي او رواني زور زياتيو سره مخ دي.د بدني او رواني زور زياتي او له هغه ډلې څخه دهغو رټلو او ټكولو ته، نه پاملرنه ،ناوړه جنسي ګټه اخيستنه،قاچاق،شاقه او جبري كارونه، جبري او تر وخت مخكې ودونه او د جنسيت پر بنسټ باندې تاوتريخوالى يادولاى شو. دا يوه ښكاره خبره ده چې ددغه شان تاو تريخوالي راوستل دماشومانو په مړينې ،دهغو د فزيكي او اروايي زيانونو ډيريدل، دمعلوليت او معيوب رامنځ ته كېدل دماشومانو د زيانمنني د درجې لوړيدل او دهغوى په ذهني او ټولنيزو وروسته پاتي والى كې لويه ونډه لري.
دافغانستان دبشري حقونو خپلواك كمېسيون د ريوټ پربنسټ چې په هيواد كې دبشري حقونو د وضعيت په اړه دى، ليكي چې ۳۸%ماشومان په داسې كارونو بوخت دي چې دهغوى دبدني توان څخه لوړ دي، ۳۱ % و روغتيايي خدمتونو ته لاسرسى نه لري،۲۶% دښوونې او روزنې څخه بې برخې دى،۴۸% ماشومان د-۱۶-كلني څخه مخكې ودونه كوي.د تېښتولو-۶۰- پيښې او پرماشومانو د جنسي تيري ۲۷ پيښې ثبت شوي دي .دماشومانو د ژوند د حق تر پښو لاندې كولو ډيرې پيښې د نړيوالو پوځونو د بمباريو او دامنيتي پوځونو ( ملي اردو او پوليس) له خوا تر سره شوي دي. په ډيرو نورو پيښو كې دولت ضد ځواكونو د ښوونځيو، روغتونونو او د استوګنځيو په ويشتلو سره دماشومانو د مړينې لامل شوي دي اويايي هم دماشومانو څخه د ځان وژونكو په توګه دهيواد په بېلابېلو برخو كې كار اخيستى دى، برسيره پر دې يو ماشوم په روان كال كې د داسې كسانو له خوا وژل شوى دى، چې د هغه خپلوان په دولت كې لوى واك لري. -۲۲۸- ماشومان په ناقانونه توګه د پوليسو او نورو امنيتي ځانګو او -۳- ماشومان د نړيوال ايتلافي ځواكونو له خوا په بګرام كې بنديان شوي دي. دغه پيښې په داسې وخت كې ترسره كيږي چې دملكي مړينو د مخنيوي له پاره كوم ځانګړي عملي پلان نشته او دهغو كسانو له پاره چې پر ماشومانو جنسي تيري كوي اويا جنسي ناوړه ګټه ور څخه اخلي درنې جزاګاني وجود نه لري.
ددې تر څنګ دافغانستان په قوانينو كې دماشومانو د ډيرو ښو ګټو تامينولو اصل دبشري حقونو د بنسټ په توګه لا كمرنګه دى، داسې قانوني تدبيرونه بايد تر لاس لاندې ونيول شي چې ماشومان د هر ډول فزيكي او رواني تاوتريخوالي پر وړاندې وساتي، دتبعيض مخنيوى وكړي او دښوونې او روزنې ور او مناسبه فضا جوړه او هم مناسب او معياري پلانونه ترتيب كړي.

په دي ترتيب دې ته اړتيا ده چې په افغانستان کې تقنيني ،عدلي،سيستم ته بيا کتنه وشي چې په هغه کې دماشومانو لوړي ګټې په نظر کې ونيول شي تر څو په دې ډول افغانستان هغه ژمنو ته تيار شي چې په نړيواله کچه ورته ژمن دی.
موږ په دې باور لرو چې که دافغانستان دماشومانو له پاره دپام وړ پانګې په کار واچول شي ،نو دافغانستان دځوان نسل راتلونکي به دنن ورځي تر کچې ښه او بهتره وي.
نو په دې وسيله دافغاستان داسلامي جمهوري دولت نه غوښتنه کوو ،چې دماشـومانو انسـاني اړتياووتـه دهيواد دبيا جوړولو او پرمختيا د پروګرامونو په سر کې ځاي ورکړي.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون يوه ملي څانګه ده چې د افغانستان داسلامي جمهوريت داساسي قانون د ۵۸-- مادې پربنسټ باندې په هيواد کې دبشري حقونو دڅارنې، ملاتړ او پرمختيا په برخه کې کار کوي. دغه ملي څانګه پروګرامي او د ملاتړ برخې لري. دماشومانو دملاتړ په برخه کې دافغانستان د اسلامي جمهوريت داساسي قانون،د بشري دحقونو نړيوالې اعلاميې او دماشومانو د حقونو دنړيوال تړون پر بنسټ خپل كارونه پرمخ وړي او دماشومانو پر وړاندې دهر ډول تاوتريخوالي مخه نيول او دهغوی څخه ناوړه ګټه اخيستل زموږ دکارونو په لومړيتوبونو کې راځي.
دنورو مالوماتو له پاره په دغه شمېرو اړيکه ونيسئ
۰۲۰۲۵۰۰٦۷٦
۰۲۰۲۵۰۰٦۷۷